**د ډبرو د سکرو مافیا او په اسلامي خاورو کې د بدبختۍ پانګوالۍ پرمختګ**

**خبر:**

اناالله وانا الیه راجعون! په خواشینۍ سره خبر شوو، چې د اندونیزیا په جنوبي کلیمانتان، تناح بمبو سیمه کې د کانونو د غیرقانوني کندنې پر سر د شخړې له امله، وکیل جورکاني په وحشیانه توګه په چاقو وژل شوی دی. په دغه سیمه کې ډېرې ورته پېښې رامنځته شوي، چې یو څه وخت مخکې هم د ډبرو سکرو پرسر د شخړې له امله یو ښوونکی هم وژل شوی و. ځینې ژورنالیستان له دې امله وژل شوي وو، چې هغوی د هغه سیمو لپاره چې په پراخه کچه تېل پکې وو، په ډاګه کول او مبارزه یې کوله. دغه وکیل هم د غیرې قانوني کندنو له امله وژل شوی دی. ډیني اندیانا د ۲۰۲۱م، د نومبر د میاشتې په ۳مه، په یوه ټویټ کې وویل: «چارواکي د اصلي مجرمینو د پیداکولو ډېرې هڅې کوي، چې معلومه کړي ددې ناوړه کړنو ترشاه د چا لاس دی.»

**تبصره:**

دغه ټویټ چې د اندونیزیایي قانون پوه له خوا خپورشوی و ، څرګنده کړه چې د ډبرو سکرو مافیایي صنعت څو اړخیز زیانونه رسولي. د یادولو وړه ده چې د ۲۰۲۱م، د جنوری په میاشت کې د سویلي کلیمتان په سیمه کې سخت سیلابونه راغلل، چې دا ډول سیلابونه په تېرو ۵۰ کلونو کې نه وو راغلي او په پایله کې یې ۵۴۳۶۳ کورونه له منځه ولاړل او ۷٦۹٦۲ کسان د سیمې پرېښودو ته اړ شول.

د ډبرو سکرو صنعت نه یوازې چاپېریال ته ، بلکې انسانانو ته یې هم زیان رسولی او هغوی یې له ناپوهۍ، جرمونو او تاوتریخوالي سره مخ کړي دي. دغه صنعت یا فابریکه د خپلو ګټو د ساتلو لپاره یو توراو قوي مافیایي ځواک جوړولای او هر ډول جرم ترسره کولای شي، ان که د انسانانو وژل هم وي. هغه خلک چه په دې ستراتیژیکو سیموکې چې له طبیعي سرچینوڅخه ډکې دي ژوند کوي، ډېری وختونه په ناپوهي او فقر کې ژوند کوي. د دوی ځمکې غصب شوې، له هغوی څخه یې ټول امتیازات اخیستي او په بدل کې یې یوازې لږ ډوډۍ ورکول کېږي.

له ولهی (د سیمې نوم) څخه یوه چاپیریال پوه ډوي ساوسنګ  د ۲۰۲۱م، د نومبر په ١٦مه، بي.بي.سي ته وویل: «اندویزیا نه یوازې د ډبرو سکرو په کندنه او کارولو  بوخته وه، بلکې  د برېښنا او کانونو په سکتور کې یې هم کار کاوه. هغوی د خپلو کورنیو برېښنایي اړتیاوو د پوره کولو لپاره تر ډېره د ډبرو له سکرو څخه استفاده کوي. اټکل کیږي چې په ۲۰۲۱م، کې به تر ۱۱۰ میلیونه ټنه ډېر د ډبرو سکاره د برېښنایي تولید په فابریکو کې وکارول شي.

د ډبرو سکور په سکتور کې، د کان کېندنې جواز په دوامداره توګه ورکول کیږي، سره له دې چې دغه چاره د ځنګلونو د له منځه تلو لامل هم کیږي. دا کار د دې له امله کیږي، چې د چین غوښتنې پوره کړي، ځکه چین د اندونیزیا د ډبرو سکرو لپاره اصلي بازار دی. په ۲۰۲۰م، کې د اندونیزیا د انرژۍ او احصایې کتاب د معلوماتو پر اساس له اندنیزیا څخه چین ته ۱۲,۷۹ میلیونه ټنه د ډبرو سکاره صادر شوي. ویل کیږي چې چین به د اندونیزیا د ډبرو سکرو د ښه کیفیت او قیمت له امله لاس وانخلي.

په اسلامي خاورو کې د پانګې پراختیا د دې لامل شوې، چې مسلمانان په بېلابېلو برخوکې له تبهاۍ سره مخ او قرباني شي. دغه بې عدالتي وروسته له هغه پیل شوه، چې په ټولنه کې پوهنه، د ژوند لیدلوری او چاپېریال له ویجاړتیا سره مخ شو، چې په پایله کې یې انسانان هم له کړاوونو سره مخ کړل. د پانګوالۍ پرمختایي پروژې هېڅکله د بشري پرمختګ لامل نه دي شوې او نه د چاپېریال د خوندي ساتلو لپاره کوم پروګرام لري. نو طبعي خبره ده هغه کسان چې په دغه ستراتیژیکو او له طبعي سرچینو ډکو سیمو کې ژوند کوي، تل به له بې عدالتیو، بې وزلیو او دوکه/تېرایستلو سره مخ وي او همدانګه د کندنو له امله به چاپېریال هم چټل وي.

پانګوالۍ د انسانانو په وینو پرمختګ کړی: په ښاري سیمو کې د خلکو د لګښت زیاتوالی د کلیوالي سیمو د طبعي سرچینو له استخراج سره تړلي دي ، څومره چې لوړ پوړې ودانۍ، مجلل د تفریح ځایونه وي په همغه کچه د ښځو پر وړاندې جرمونه او تاوتریخوالي زیاتېږي. په کلیو او پانډو کې له طبعې زېرمو ناوړه ګټه اخیتسل کیږي او خلک یې د ناپوهۍ او بېوزلۍ په تیارو کې ساتل کېږي، ان ډېری وختونه د مافیایي ډلو له خوا د تاوتریخوالي سره مخ کیږي.

دا ټولې ناخوالې له دې امله دي، چې په  نننی عصر کې د پانګوالۍ پرمختګ، د مالکیت د آزادۍ، سودي پورونو او د خصوصي پانګونو پر اصولو ولاړ دی، هغه چې د صنعتي نظم له ارزښتونو لکه سیکولریزم، او لېبرالیزم سره سمون لري. په دې توګه د پانګوالۍ  پرمختګ د انسانانو د بدبختۍ لامل شوی او الله سبحانه وتعالې داسې پرمختګ ته، چې په هغه کې انسان له بې عدالتۍ، زیان او تاوتریخوالي سره مخ کیږي باطل ګڼلی. په اسلامي خاورو کې د پانګوالۍ پرمختګ چاپېریال او اقلیم ته زیان رسولی او ناورین یې رامنځ ته کړی او اسلامي امت ته یې په فکري او ټولنیزه توګه هم زیان رسولی دی.

**{وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰۤى اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنْ كَذَّبُوْا فَاَخَذْنٰهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ}**[الاعراف: ۹۶]

***ژباړه:*** *که د سیمو خلکو ایمان راوړی وای او تقوا یې غوره کړې وای، نو موږ به پر هغو له اسمان او ځمکې د برکتونو دروازې پرانیستې وای. خو هغوی درواغ وګڼل، نو موږ ځکه هغوی د هغې ناوړه ګټې اخیستنې په حساب ونیول.*

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکوال: ډاکټر فیکا کومارا**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر غړی**

**ژباړن: محمد هارون**